SHARIAT WEEKLY

شريعت

اوونيزه

په اووني کي دوه ځله خپريږي

دافغانستان دطالبانو داسلامي تحريك مركزي نشراتي ارگان

دريم كال اته ويشتمه گڼه پرله پسي (١٢٨) چهارشنبه د ١٤١٩هق كال د محرم الحرام (١٧) ١٣٧٧ هـ ش كال د غويي د مياشتي (٢٣) د ١٩٩٨ ميلادي كال مي (١٣١)

الهي فرمان

عدل (انصاف) وكړئ تاسي ! ، همدا (عدل) ډيـــر نـــږدې دى تقوا(پرهيزگـــارى) ته .

(سورة المائدة)

نظام اسلامي در ٢٤ ولايت تحت كنترول طالبان حكمفرماست

مجاهدين و علماي كرام با قطع نظر از مذاكرات طولاني با امارت اسلامي تماس بگيرند

مجاهدين در صورت پيوستن به امارت اسلامي مسوؤليت عظيم اسلامي شانرا رفع كرده خواهند بود

مولوي محمد افضل «نورستاني» يكتن از علماي سرشناس افغانستان

طبق گزارش روز نامه سهار منتشره پساور مولوي محمد افضل «نورستاني» يكتن از علماي سرشناس افغانستان ميگويد : طوري كه مجاهدين در طول انقلاب اسلامي نظر به فقدان زعامت مركزي نتوانستند با تشكيل يك حكومت منظم مركزي بعد از فتح افغانستان مصالح جهاد راد ر نظر داشته و ثمرات آنرا به دست بياورند،ازينرو فتنه جنگهاي خونين ذات البيني مجاهدين آغاز يافت و قريب بود كه جنگ بر سر قدرت تمام ثمرات جهاد را ضايع كند، اما نعمت بزرگ پاسداري از دست آورد هاي جهاد به توفيق خداوند كريم ذريعه تحريك طالبان كرام متحقق شد. طالبان فرزندان مجاهدين ديار ما مي باشند، و فعلاً ٢٤ ولايت افغانستان در تسلط شان قرار دارد و در هر ٢٤ حلورم مخ

دكانو او صنايعو د وزارت معين د مرمرو او رخام د فابريكي بيلا بيلي ځانگي وكتلي

د كانو او صنايعو د وزارت معين د مرمرو او رخام د فابريكي بيلا بيلي ځانگي وكتلي.

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راكړي : د كانو او صنايعو د وزارت معين محترم الحاج ملا محمد صادق اخند په داسي حال كي چي د مرمرو او رخام د تصدي رئيس محترم مولوي عبدالعزيز بدخشاني هم ورسره و د مرمرو او رخام د فابريكي بيلابيلي خانگي وكتلي، او ددغي فابريكي د بيا رغوني او په فعاليت پيل كولو په باب يې د فابريكي له چارواكو او كاركوونكو سره خبري اتري حلورم مخ

د نظامي محكمي د موظف كميسيون لخوا د نسبتي دوسيو تر څيړني وروسته :

د كابل ولايت له نظارت خاني نه ٢٥ تنه بنديان ازاد كړل شول

د نظامي محكمي لخوا د موظف كميسيون لخوا د بنديانو د نسبتي دوسيو تر څيړني وروسته د كابل ولايت له نظارت خاني څخه ٢٥ تنه بنديان ازاد كړل شول .

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راكړي د بنديانو پر دوسيو د غور او تحقيق په لړ كي تيره ورځ هم د نظامي محكمي د موظف هيئت څلورم مخ

په ننگرهار كي د تندر غميزه تكرار شوه

په دوهم ځل د تندر د بريښنا له امله دوه تنه مړه او دوه تنو خپل اعصاب له لاسه وركړل

د ننگرهار ولايت د خوگياڼو د ولسوالي د زاوي د سيمي د چكاو او دري سري په كليو باندي دري ټور تندرونه پريوتل چي په نتيجه كي يې ددي كلي اوسيدونكي هر يو محمد هاشم او امان باز سخت ټپيان شويدي .

د زاوي د كلي يو تن اوسيدونكي خبرياالانو ته ويلي دي چي دا تندرونه توت په ونو او دروازه باندي لويدلي دي. همداراز د دي ولسوالي د كوز بهار د سيمي د اوړولي په كمپ كي هم د توت په ونه د تندر د راپريوتلو له څلورم مخ

يادداشت احتجاجيه وزارت امور خارجه امارت اسلامي افغانستان عنواني كنفرانس سران سازمان همكاري هاي منطقوي "ايكو"

شركت رباني در كنفرانس «ايكو» نه تنها مغاير با اصل دوستي و حسن همجواري ميان ملت هاي اين منطقه است بلكه لطمه جبران ناپذير بر پيكر كنفرانس «ايكو» نيز به شمار ميرود

امارت اسلامي افغانستان و مردم مسلمان اين كشور دعوت از رباني در كنفرانس «ايكو» را پامال نمودن حقوق حقه مردم افغانستان مي داند

يادداشت احتجاجيه وزارت امور خارجه امارت اسلامي افغانستان عنواني كنفرانس سران سازمان همكاري هاي منطقوي «ايكو»

١٥ محرم الحرام ١٤١٩ هـ ق مطابق ١١ مي ١٩٩٨ ميلادي - كابل

بسم الله الرحمن الرحيم

پنجمين اجلاس سران كشور هاي عضو سازمان همكاري هاي منطقوي «ايكو» كه در پايتخت قزاقستان به كار خويش آغاز نموده است .

در اين كنفرانس ازبرهان الدين رباني رئيس جمهور بركنار شده دعوت بعمل آمده است تا كرسي افغانستان در كنفرانس را اشغال نمايد.

سوال اينجاست كه سازمان همكاري منطقوي «ايكو» رباني را بر بنياد كدام معيار و اصول به اين كنفرانس راه داده است . آيا اعضاي اين كنفرانس از اين حقيقت بي خبر اند كه آقاي رباني پس از اينكه در نتيجه قهر و قيام ملت از پايتخت افغانستان رانده شد تا كنون موفق نگرديده تا نقطه استقرار براي خويش در سراسر افغانستان بيابد.

در هر نقطه از شمال كشور كه تلاش نمود كه چيزي شبيه به تشكيل يك حكومت بوجود آورد به علت شر و فساد كه در سرشت تفنگداران وابسته به وي وجماعاتش وجود دارد امنيت مردم به مخاطره افتاد و مسؤوليت جان و مال مردم از ميان رفت و مردم نيز با قيام خويش عرصه را بدين دارو دسته جنايت كار تنگ نمودند كه آخرين سلسله، از اين قيام ها در ولسوالي اشكمش ولايت تخار گواه روشن اين ادعا ست .

جنگ هاي ذات البيني بين مليشه ها در شمال از مزار شريف . ص۰٤

مؤسسه سوليدارتي در تهيه سامان آلات و مصارف شبكه برق و حفر چاه هاي عميق همكاري مي نمايد

مؤسسه سوليدارتي در تهيه سامان الات و مصارف شبكه برق ، آبرساني و حفر چاه هاي عميق در شهر كابل با وزارت آب و برق همكاري مينمايد.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر ميدهد: اين مطلب در ملاقات تاريخ ١٥ ص۰٤

د رسالت د مقام د سپكاوي په قانون كي د تعديل په اړه

پاكستان د امريكا وړانديز رد كړ

پاكستان د امريكا وړانديز چي د رسالت د مقام د سپكاوي په قانون كي دي تعديل راوستل شي په كلكه رد كړيدي.

د نړيوالو خبري سرچينو د خبر له مخي پاكستان ويلي چي زمونږ قانون سپيڅلي دي خو د خپل قانون په ځير د نورو قانونو نو ته هم د درنښت په سترگه گورو .

بايد ووېل شي امريكا څو ورځي وړاندي په پاكستان كي د يو عيسوي اسقف په ځان وژنه سخته نيوكه كړي وه . نو موږي اسقف د پاكستان د محكمي لخوا د رسالت مقام د سپكاوي په جرم د مرگ په سزا د يو عيسايي تر محكومولو وروسته خپسان په طمانچه ويشتي و او خپل ژوند ته يې پسه خپله د پاي ټكي ايښي وو .

د هرات ولايت د امنيي قوماندان محترم مولوي عبدالحق له شريعت اوونيزي سره په مركه كي :

د هرات په ولايت كي د خلكو په مرسته فوق العاده امنيت تأمين دي

د اسلامي امارت په وړاندي د بغاوت لامل بهرني لاسوهنه او پرديو ته غوږه مالي ده

د هرات د امنيي قوماندانۍ تولي ځانگي فعالي او خپلي وركړي دندي په بشپړ ډول سرته رسوي

پوښتنه : د هرات ولايت د امنيتي حالاتو په اړه معلومات راكړي او ستاسو په نظر د اسلامي امارت مخالفين ولي وسله ته غوړځوي ؟

ځواب : ټول مسلمانان په دي عقيده لري چه د هر انسان او ټولني لپاره عزت او ذلت د خداي«ج» له خوانه ټاكل كيږي ډير د شكر ځاي دي چي د افغانستان اسلامي امارت او خلكو ته خداي پاك د اسلام د مقدس دين په لمن كي عزت وركړيدي . او د الله«ج» په نصرت سره د افغانستان د طالبانو اسلامي تحريك شپه او څلورم مخ

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

د «ايكو» غونډه د افغانستان له گډون پرته بي نتيجي پاي ته ورسيده

د سيمه ايز اقتصادي تنظيم «ايكو» (٥) مه غونډه د ١٩٩٨ م كال د مي په لسمه د قزاقستان په پلازمينه الماتا كي پيل او په دومه ورځ د افغانستان له گډون نه پرته بي نتيجي پاي ته ورسيدله سره له دي چي افغانستان له ١٩٩٢ كال نه د ايكو غړي دي،

څرنگه چي ددغه تنظيم بنسټ په اقتصادي گډو همكاريو ايښودل شوي دي او د سيمي په اقتصادي همكاريو كي تجارتي راكړه وركړه تر ټولو ستره او مركزي برخه تشكيلوي او افغانستان دجغرافيي له مخي د تجارت يوه مهمه او د پيړيو پيړيو تاريخي لاره ده د سيمي هيوادونو ته د شارگ حيثيت لري او له همدي امله د تاريخ په اوږدوكي په سيمه كي چي كله هم يوه استعماري ځيښاك سر راپورته كړي دي د افغانستان په لاندي كولو يې خپل بخت ازمويلي دي؛

له دي سره سره د سيمي هيوادونو د ايكو په وروستي غونډه كي د افغانستان اسلامي امارت ته د گډون بلنه ورنه كړه دا ولي ؟

كه د رباني خواركي په بلنه او گډون باندي دوي ځان غولولي وي نو بيا خو د غونډي د نتيجو تر لاسه كولو په لټه كي نه وو ماذي يو سمبوليك رسم گذشت يي مطلب ؤ چي د غونډي نيته دوهم مخ

د لوگــر ولايت د دري زره كورنيو او لس زره جريبو مځكــي د خــړوبولو ستونزه حل شوه

د لوگر ولايت دري زره كورني او مربوطي دابري د ځښاك له روغتيايي اوبونه مستفيدي شوي.

د لوگر له ولايت نه د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راكړي : د لوگر ولايت والي او ددغه ولايت چارواكو د پاملرني او هلو ځلو له امله او د آر. اي. سي او د آي. ار . پي موسسو په همكاري د ژورو ځاگانو د كيندني ؛ وه پروژې او د اوبو د زيرمي د حوږولو او د ابو رسولو د نلونو د غزولو او د حسن د وياللي پروژه د بيا مراسمو په ترځ كي پرانستل شوه او د استفادي وړ وگرځيده .

ددغو پروژو د پرانستلو په مراسمو كي لومړي د كلام الله مجيد څو ايتونه ولوستل شول او وروسته د لوگر ولايت كفيل محترم څلورم مخ

دړندو معلولينو د دماغي او جسمي ودي په خاطر لوبي كيږي

د هيواد د ړندو او معلولينو ددماغي او ځاني ودي په خاطر د بايسكل د ځغاستي لوبي پيل كيږي .

د شريعت اونيزي خبريال د المپيك د ملي كميټي د يو مسؤول له خولي خبر وركړ چي په دي لوبو كي چي د لومړي ځل لپاره د همدي كميټي په اهتمام تر سره كيږي گڼ شمير ړانده او څلورم مخ

د حريت د فوټبال ټيم د شيخ ابو النصر فارابي په ټيم بريالي شو

د حريت د فوټبال ټيم د شيخ ابو النصر فارابي فوټبال په ټيم باندي د دوبي په مقابل كي په يو باندي بريالي شو .

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راكړي : د فوټبال په زړه پوري لوبه چي تيره ورځ د حريت د فوټبال ټيم او د شيخ ص۰٤

فابريكه يخ ولايت نيمروز افتتاح گرديد

فابريكه يخ ولايت نيمروز اخيراً طي محفلي در مركز آن ولايت افتتاح گرديد.

خبرنگار آژانس اطلاعاتي باختر از شهر زرنج خبر ميدهد در اين محفل كه به اشتراك مسؤولين ولايت نيمروز تدوير يافته بود سخنرانان در رابطه به فراهم آوري تسهيلات و ايجاد زمينه هاي لازم براي متشبثين خصوصي و تجار ملي كشور صحبت نموده گفتند علي الرغم آنكه كشور اسلامي ما طي دو دهه جنگ با آسيب پذيري هاي شديد ص۰٤

سيمينار تربيتي طرق جلوگيري از اسهالات در هوتل سپين غر ولايت ننگرهار تدوير يافت

سيمينار تربيتي طرق و زمينه هاي جلوگيري از اسهالات روزدوشنبه مورخه ١٥ محرم در هوتل سپين غر ولايت ننگرهار تدوير يافت .

خبرنگار آژانس اطلاعاتي باختر از شهر جلال آباد خبر ميدهد در اين سيمينار كه به كمك اداره يونيسف داير گرديده و در آن نماينده گان مؤسسه متذكره از ص۰٤

نزده بوتل مشروب الكولي با حامل آن دستگير گرديد

حامل نزده بوتل شراب به تاريخ ٥ محرم الحرام از ميدان هوايي بين المللي كابل دستگير گرديد.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر ميدهد نزده بوتل شراب كه ص۰٤

شریعت

دامتیاز خاوند : دافغانستان دطالبانو اسلامي تحریک
دتاسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندي
مسؤول مدیر : الحاج مولوي عبد الرحمن احمد «هوتک»
مرستیال : ملا اسد الله «حنیفي»
دیوي ګڼي بیه : په هیواد کي (۱۰۰۰) افغاني په‌پاکستان‌کي(۳) کلداري
پوست بکس : (٤٧١٠)
په پیښور کي : دطالبانونمایندګي‌تیلفون: ۸٤٤۳۳۱-۸۱۸۱۵۷-۸۱۵٦۲۷
جاري حساب : ٤٠۳۸٥ / ۷ د افغانستان بانک مرکز
چاپ : دولتی مطبعه

د سرمقالي پاتي برخه

تشه تیره نه شي هغه رسم خو په ځاي شو؛

او که د تصمیم او تنظیم د عملي پراختیا غوښته وه نو بیا خو د افغانستان د اسلامي امارت د استاځي ګډون پکښي ضروري و ځکه چي د هیواد ډیره زمکه او د تجارت هغه لاره چي شمال او جنوب سره تړي او یو وخت د وریښمو لاره بلله کیده د اسلامي امارت تر واکمني لاندي ده، د تنظیم د پریکړو عملي کولو سیک لري، په دي برسیره د ترکمنستان د ګاز د لیږدوني پایپ لاین هم له هغي برخي څخه تیریداي شي چي د افغانستان د اسلامي امارت تر واکمني لاندي ده ؛

د رباني خوارکي په ګډون سره نه بوازي دا چي د غونډي هیڅ پریکړه او تصمیم په افغانستان کي نه شي عملي کیداي بلکي د ایکو تنظیم په هغه حیثیت چي د سیمي ملتونو د اقتصادي پر مختګ هیله او تمه ورته لر له سخت ګوذار دي ځکه چي رباني د افغانستان د ملت په وړاندي نه بوازي خپل حیثیت بو مخ له لاسه ورکړي دي د ناستي ځاي نه لري او نه نماینده کیداي شي بلکي د یوه مجرم او ملي خائن په حیث یي ګڼي چي کله په لاس ورشي محاکمه کوي به یي ؛

له دي واړو سره سره د افغانستان د ملت د نماینده نه ګډون علت کیداي شي د ایراني چارواکو او په سیمه کي د هغو طرفونو نه رضایت وي چي په افغانستان کي په جنګ او عدم ثبات باندي راضي دي، هغوي چي د خپلو شومو هدفونو په پام کي نیولو سره په افغانستان کي خپلي مزدوري او بي فرهنګه وړلي تغذیه کوي او جنګ ته لمن وهي ددي خبري په غم کي نه دي چي د اقتصادي ملګرتیا د سیمي تنظیم‌ایکو‌به‌بوښتنه‌اوبي‌ګټي‌سمبول‌وګرزي؛

د ایراني چارواکو تر ټولو لویه هڅه دا ده چي د ایکو مشران داسي پریکړي ته پري نږدي چي د ترکمنستان د ګاز پایپ لاین مخامخ د افغانستان په لنډه او اقتصادي لاره د اسیا جنوب ته تیر شي، زیار باسي چي په هره حیله سره وي د ایکو سر مشریزه بي نتیجي پاي ته ورسوي، لکه چي همدا اوس یي په آساني سره دغه هدف ته ځان ورساوه؛ اوس نو د هغو هیوادونو دنده ده چي دغه تنظیم یي د ښه مقصد لپاره تاسیس کړي دي چي تنظیم دي ته پري نږدي چي څوک یي د خپلو شومو هدفونو ترسره کولو لپاره لوبتکه جوړه کړي بلکي په ځیرکتیا او هوښیاري سره دي هڅه وکړي چي له دغه تنظیم نه د سیمي په ګټه هغه اقتصادي هدفونه تر لاسه کړي چي د هغو لپاره تاسیس شوي دي؛

که چیرته د تنظیم د غړو هیوادونو په مشرانو کي داسي څوک وي چي د ایراني چارواکو طفیلي نه وي او د هغوي په بدو نیتونو پوه شوي وي نو په هوښیاري او ځیرکتیا سره دي هاند وکړي چي تنظیم وژغوري او د ټولي سیمي اقتصادي ګټي د ځینو بدنیتو غړو هیوادونو له ځانګړو ګټو څخه قربان نه شي، که داسي نه وي نو د ایکو اقتصادي تنظیم به یو بي ساموجود وي چي تش نوم به لري او هغه به هم ورو، ورو له منځه لاړ شي؛

د افغانستان اسلامي امارت به په خپل وار سره د داخلي ستونزو له حل نه وروسته د ایکو د سازمان د پرمختیا، ګټور اقتصادي رول لوبولو او د سیمي د اقتصادي بښیرازي او سمسورتیا په لاره کي په زړه پوري کار وکړي.

انشاء الله تعالی

محاصره د چا لخوا؟

د هزاره جات او باميان د محاصري خبره نژدي یو شعار ګرځیدلي او څومره چي شعارونو د سیاسي د کانداري لپاره د یوه مود او ضرورت ښه غوره کړي دغسي د افغانستان د اسلامي امارت مخالفانو د خپلي سیاسي دکانداري د اشتهار په توګه کارولي دي. خو حقیقت دا دي چي باميان او هزاره جات په لومړي ګام کي د همدغه متحدي جبهي د بریځو له خوا تر محاصري لاندي ونیول شو او هغه خوراکي او دارويي مواد چي د ملګرو ملتونو او مرستندویه ادارو له خوا دغه سیمي ته د وږلو لپاره راغونډ شوي وو د متحد جبهي ځواکونو چور او لوټ کړل، سیمي ته په خوراکي موادو بار ډیري لاري د متحدي جبهي ټوپکيانو او پاټکيانو تالا کړي چي دغه مطلب د ملګرو ملتونو او مرستندویه ادارو په رسمي رپوټونو کي ځاي لري.

ملګرو ملتونو همدا اوس اعلان کړه چي دوه نیم زره ټنه غذايي مواد یي راغونډ کړي خو ځرنګه چي د شمال له لوري باميان ته ددغه موادو د لیږدوني په اړه ډاډ او امنیت نشته او ددغو موادو د لوټیدو ویره ده ځکه خو دغه مواد په ازبکستان کي همداسي ذخیره پراته دي .

که په ازبکستان کي ددغو موادو ژیرمو او ګوداموتو ته موږ کان سوري وکړي یا وراسته شي ملګري ملتونه به ددي پړه هم

په نورو اچوي. په مزار کي د متحدي جبهي د خپل منځي اخ او ډب په جریان کي د مرستندویه ادارو ډیپوګان، دفترونه وسايل او وسايط لوټ او وړو پهلوانانو په رڼا ورځ ولوټل چي ددغو ادارو کورنیو او بهرنیو کارکوونکو په بیوسي ورته کتل او په غریدلو سترګویي ددغي لوټي تنداره کوله .

کریم خلیلي دومره نشي کولي چي له

خوراکي او دارويي مواد ورسوي.

که له کریم خلیلي سره په ریښتیا هم د خپل قوم غم او درد موجوودي نو لومړي دي د رباني مسعود او دوستم ګریوان ته لاس واچوي چي ولي یي د ملګرو ملتونو هغه مرستي لوټ او چور کړي چي باميان او هزاره جات ته د لیږدولو لپاره راغونډي شوي وي په حقیقت کي خو د هزاره جات او باميان د خولي مړګاد متحدي جبهي بریځو لوټلي چي لا تر اوسه هم ملګري ملتونه دغه مخه نه ویني چي خپلي مرستي د متحدي جبهي د

ژغورلي واي خو دا چي د نورو خیراتونه او مرستي هم تري لوټي بیا په کومو سترګو ځان د دوي واکمن ګڼي او هغوي دي خپل امپراتور. ملګري ملتونه هم د ایمان په ځاي ګوتي پړدي چي د مزار واکمنو نه وواي تاسي چي له خپل قلمرو نه باميان ته خوراکي مواد نه پریږدي او لوټوي یي بیا په کومه خوله دغه غوښتنه له نورو کوي.

لدي سره سره د افغانستان اسلامي امارت د خپل ولس د ستونزو د په پام کي نیولو له مخي اعلان کړه چي ملګري ملتونه خوراکي مواد هزاره جات ګیږدولي شي خو چي هغه په ریښتیني توګه په خلکو وویشل شي- جنګي وړلي پري خیښه وانه چوي او د غوربند تر محاصري لاندي خلك هم له دغو مرستو برخمن شي خیراتوونکي خبره د ملګرو ملتونو ده چي وايي د غوربند د محاصري او قحطي په اړه ځـه معلومات نه لري، لدي نه ځرګندیږي چي د ملګرو ملتونو د معلوماتو مأخذ او دائرة المعارف د مخالفانو تبلیغات او شعارونه دي چي خپله ددغي اداري پرستیژ تر سوال لاندي راولي .

په کار خو دا وه چي لومړي باميان او هزاره جات ته د شمال له لاري د خوراکي موادو رسیدل یقیني شوي واي، دغه خواخوږي او زړه سوي تر ټولو دمخه دوستم او مسعود ته ضروري دي چي د خپلي متحدي جبهي په اتهوالانو یي زړه وردديږي او پرېږدي چي د ملګرو ملتونو مرستي او خیراتونه هلته ورسیدي شي.

پټی پاڼي

شهرت ننګیال

دوستم او مسعود ته وېوښتي چي آخر د هزاره جات او باميان د ارو او وږيو هزار ګانو د خولي مړي یي ولي په رڼا ورځ ولوټله او دوي یي د بل له مرستي او خواخوږي نه هم بي برخي کړل .

که ښاغلي رباني د حکومت له ادعا سره نشي کولي یا نه کوي چي د باميان او هزاره جات ارو او وږيو هزارګانو ته خوراکي مواد ورسوي او هغوي د قحطي له ګوابښ نه وژغوري لږ تر لږه خو دي د ملګرو ملتونو او نورو مرستندویه ادارو د مرستو کاروانونه پریږدي چي د دوي له قلمرو نه صحیح سلامت تیر او باميان ته

پهلوانانو له قلمرو نه په امن باميان ته ولیږدول شي .

کریم خلیلي چي په متحده جبهه کي دومره مخ نلري چي د ملګرو ملتونو خیراتي مرستي د دوستم او مسعود د بریځو له قلمرو نه تیري کړي شي بیا نو په دغه تش په نوم جبهه کي دده ګډون خپله یو سوال دي چي ځواب یي ښايي بیواځي له همده سره وي.

په کار خو دا وه چي رباني صاحب چي ځان د دغو سیمو واکمن ګڼي هلته خوراکي مواد رسولي واي او د خپلي واکمني دغه وړوکي سیمه یي د قحطي له ګوابښ نه

کورني فقه ۳۰

څوك په زوي توب نيول او ديني وروري

قاضي محمد حسن "حقیار"

څوك چي د چا خپل سکه زوي نه وي او نسب یي معلوم وي او څوك د داسي چا د زوي ولي نسبت ځانته وکړي نو دېته په زوي توب نیول ویل کيږي . دا کار زمونږه په ټولنه کي هم په مختلفو بڼو رواج دي او له اسلام نه وړاندي د جاهلیت په وخت کي هم رواج وو.

له اسلام نه وړاندي به عربانو د نورو قومونو په ځير د پري قوم داسي کوچني چي پلار او مور دواړه به یي معلوم وو په زوي توب ونیوه او د هغه نسبت به یي ځانته کاوه دا کوچني به هم د خپل اصلي

پلار په ځاي ددي جعلي پلار په نوم یادیده او دي جعلي پلار ته به هم خلکو د همدي جعلي زوي د پلار په نوم خطاب کاوه لکه د فلاني پلار . دي دسي زوي به بیا ددي سړي د نورو اولاد په ځير پوره حقوق درلودل ددي سړي په کور کي به بیا د ټولو هغو امتیازاتو نه برخمن وو چي ددي سړي نورو زامنو او لورګانو به درلود. همدا راز د نکاح او میراث په برخه کي یي هم د زوي حیثیت درلود ددي سړي له لورګانو او نورو هغو محرماتو سره چي دده نورو زامنو

ته ورسره نکاح حرامه ګڼل کیدله ده ته هم ورسره نکاح حرامه ګڼل کیدله ددي هلك ښځه به ددي سړي سکه انګور وه او نکاح به ورسره حرامه ګڼل کیده . له ده نه به ستر او پرده نه وه او له ښځو سره اختلاط او خلوت ورته روا ګڼل کیده . -چي همدا جاهلیت زمونږ په ټولنه کي هم په لږ توپیر سره لیدل کیږي -.

خو کله چي د اسلام د سپیڅلي دین ورانګي د مدیني په موګو ولویدلي نو وېي لیدل چي دا یو جعلي (ساختګي) کاروبار او دواقعیت خلاف عمل دي . او تر څو چي کوم کوچني د یو چاله خپلي نطفي څخه نه وي ، د هغه په رګ رګ کي ددي سړي وینه نه وي چلیدلي نو تش د خولي په وینا باندي نه څوك د چا زوي کیدلي شي او نه لور او نه خو په نشه خوله څوك د چا پلار او مور کیدلي شي

اسلام ولیدل چي د زوي توب له دعوي سره سره بیا هم هغه فطري مینه او شفقت چي له خپل سکه زوي سره کیږي له ساختګي زوي سره یي د امکان توقع کمه ده همدا راز اسلام ولیدل چي بوازي د ژبي وینا حقايق او واقعیتونه نه شي بدلولي او ددي دعوي د ثبوت لپاره هیڅ تضمین او بهرني ملاتړ نه موندل کیږي او نه بوازي دا چي د کوم ټولنیز مصلحت امید تري نه کیږي بلکه ډیرو مفاسدو ته یي لارهواروله د بیلګي په ډول کله به چي چا څوك په زوي توب ونیوه نو هغه به ددي سړي په میراث

کي شریك شو ، له نورو حقوقو نه به برخمن شو چي په دي کار سره ددي سړي اصلي پاتي شوني (وارثين) او دوستان له میراث او نورو حقوقو نه محروم شول چي بیا به یي دي (دسي) او خود خوانده زوي ته په زړه کي د غوسي سمندر څپاند شو ، له حسد او کیني نه به ورته رېبدل، هغه د وروري او دوستي؛ فضا به یي د نفرت، تیښتي او دښمني په فضا بدله شوه چي نتیجه به یي دښمني، فتنه او د اړیکو خرابوالي وو .

اکثره به د کور له ښځو سره دده ازاده ناسته ولاړه او خبري د نور اخلاقي مفاسدو لامل شو یو بل تاوان په کي دا وو چي که ددي سړي په نږدي دوستانو کي به کومه انجلي ددي هلك خوښه شوه او یا به دا هلك ددي انجلي خوښ شو نو په دي خاطر چي د جعلي حرمت په لومو کي نښتي دي او یو د بل ساختګي محرمان دي نو د نکاح لپاره یي هم اجازه نه وه چي د اسلام سپیڅلي دین دا ټول رواجونه او جعلي دیوالونه ونړول. او اعلان یي وکړ چي څوك د چا خپل سکه زوي نه وي، له خپلي نطفي نه یي نه وي، وینه یي سره شریکه نه وي نو تش په خولي او ژبه څوك د چا زوي کیدلي نه شي او نه باید چا ته په جعلي ډول د خپل سکه زوي حیثیت ورکړل شي وېي فرمايل : « و ما جعل ادعيا ، کم ابنا ، کم ... » الاحزاب ٤ - ٥

یعني « ندي ګرځولي په زامنو بللي ستاسي زامن ستاسي دا چي دي ویل ستاسي دي په خولو ستاسو او اللّٰه وایي حق او دي ښیي سمه لاره . وبولئ تاسو دوي پلرونو خپلو ته چي دا کار ښه غوره دي په نزد الله «ج» خو که بیا مو د دوي پلرونه نه پیژندل نو بیا دوي ستاسو وروڼه دي په دین کي او دوستان مو دي. »

نوربیا

چه داني که در قیامت با ما چه کند؟

ارسالي : ملا محمد اکرام «دوښي وال»

حکایت است که منصور عماره رح» شبي از کوچه یي مي ګذشت ناګهان از مردي شنید که زني را مي ګفت : دو درم را چه میګویي؟ زن پذیرفت و اجابت کرد و به خاطر عمل زشت زنا با هم روان شدند. شیخ منصور «عمار» با خود ګفت اګر بګذارم در ملك خدا فساد کنند ، چه خواهد شد ؟ شیخ از طرف دیګر در امد و ګفت اي ضعیفه : چهار درم را چه ګوئي ؟ آن زن في الحال از پس آن مرد بازګشت و با شیخ روان شد . شیخ او را بخانه، خود برد و چهار درم پیش وي نهاد و خود بنماز مشغول شد ، هر دوګانه، را که بګذاردي بدوګانه، دیګر مشغول شدي آن ضعیفه انتظار مي کشید، آخر ګفت : چرا حاجت خود را روا نمیکني و صبح نزدیك است.

شیخ ګریان کرد و ګفت : اي ضعیفه اګر ګویم مرا با تو میل نیست دروغ باشد اما اګر این فعل از ما در وجود آید و چهار ګواه عدل ګواهي دهند به نزد قاضي، قاضي با ما چه کند ؟ ضعیفه ګفت : آنچه حد شرع باشد بر ما براند. شیخ ګفت اګر قاضي خود ببیند چګونه بود ؟ ګفت حجت استوار باشد، اما اینجا درین شب کدام ګواه و قاضي باشد که ببیند. شیخ فرمود : اول دو فرشته که کاتبان عمل تواند و دو از ین که ببینند و ګواه شوند، خداوند متعال از حال بندګان آګاه است مي بیند و میبیند. ندچه داني که در

قیامت با ما چه کند ؟ ان ضعیفه چون این سخن بشنید نعره بزد و بیهوش شد چون بهوش باز آمد ګفت اي شیخ ! مدتي عمر خود را در خراب روزګاري بسر برده ام و از این معني غافل بودم اګر توبه کنم نه پذیرد ؟ شیخ ګفت : اي ضعیفه حق تعالي قبول کننده، توبه بندګان است و عفو کننده سیأت ایشان، چنانچه خداوند غفور خود فرموده است « ترجمه : و من آمرزنده هستم براي کسیکه توبه کند »

آن ضعیف توبه کرد و از دوستان حق ګشت . الهي ما مسکینان را از هر چه نباید و نشاید نګهدار . (آمین)

* * *

همي آرند که در شهر بصره یکي بود بباغ خود رفت و چشمش بر جمال زن دهقانش که نهایت خوبروي بود افتاد .

دهقان را براي شغل دیګر فرستاده و زن را ګفت که در ها را در بند. زن ګفت : همه درها را بستم مګر یك درراکه‌نمي‌توانم‌بست.

صاحب باغ ګفت که کدام در است، زن ګفت دریکه میان ما و خداوند متعال است. مرد پشیمان شد و استغفار کرد.

سیر تحول خانقاه و پیدایش آن

تتبع و نگارش از مهر الله دردمند

۱٤

آداب تصوف رفت از خانقه و مسجد
شد نصف جهان صوفي اسرار نمي یابم

خانقاه ها که در گذشته در عالم اسلام مرکز آموزش معرفت حقیقي و کانون ادب و اخلاق و بالاخره سنگر مطمین و مستحکم جهاد و مجاهدت محسوب میگردید، مگر بنا بر عوامل گوناگون که در شماره گذشته مختصراً به آن اشاره شد، رفته رفته به ابتذال کشانیده، نقش و اهمیت تاریخي آن به فراموشي سپرده شد.

طوریکه در بعضي از خانقاه ها دیده شده است خلاف معیار اصول طرح شده شریعت و طریقت که عین یکدیگر اند و از هم جدا نمي باشند یعني لازم و ملزوم هم اند، عده بي بي خبر از معرفت بدون اینکه شیخ طریقت «مرشد خانقاه» وجود داشته باشد و هم بدون تعلم، تلقین و تعلیم از طریقت اربعه تصوف به ذکر و سماع خود سرانه مبادرت مي نمایند. گروه مذکور نه تنها به این روش خویش که خلاف شریعت و طریقت مي باشد دامه میدهند، بلکه بد تر از آن در بعضي موارد بخاطر جذب مذموم نفساني مطابق به القاً و وسواس شیطان رجیم به کشیدن چرس و دیگر مواد نشه آور پرداخته و به زعم باطل خویش گویا راه حقیقت را در یافته اند ؟!! در حالکیه مراعات و پیروي کامل و دقیق از شریعت نبوي «ص» و موجودیت مرشد آگاه و کار آزموده طریقت که عالم و عامل به فعل و قول رسول کریم «ص» باشد شرط اساسي و مبرم را در رهبري خانقاه و ارشاد طالبین تشکیل مي دهد. سرنوشت خانقاهیان و ارادتمندان طریقت که بدون موجودیت مرشد آگاه از امورات و رموزات دقیق شریعت، شباهت به آن سپاهیاني را دارد که : در عرصه معرکه گرم در جبهه جنگ با دشمن قوي پنجه و مجهز با انواع وسایل حربي بدون فرمانده ورزیده بطور پراگنده مصرف نبرد و مبارزه دشوار سرنوشت ساز باشند. البته سر انجام آنان براي همه هویدا است که بکجا خواهد انجامید ! واضح است که به شکست و ناکامي، سماع و جذب حقیقي با کشیدن چرس و نواختن آلات موسیقي شهواني ، شنیدن موسیقي انحرافي حاصل نگردیده ، بلکه نفس اماره بالسؤ را به انحراف و سرکشي کشانیده و زمینه را براي تعرض و تصرف شیطان محیل و نفس مکار در ضمیر باطن فراهم مي گرداند.

همچنان موجودیت شیخ هاي بي خبر از حقایق معرفت در بعضي از خانقاه ها شایقین و مخلصین طریقت را به گمراهي آشکار و دور از حق کشانیده که باید جلو فعالیت همچو اشخاص مغرض که مدعیان کاذب سجاده تصوف مي باشند هرچه زود تر گرفته شود ، در غیر آن موجودیت و ادامه فعالیت آنان لکه ننگي بر دامان مقدس تصوف و عرفان تلقي میگردد.

دست یابي اشخاص نا آگاه از حقایق شریعت و رموزات طریقت به محیط و ما حول مطهر خانقاه اسلامي ادامه فعالیت آنان چون لانه عنکبوت گونه یي است که غرض اغواگري مسلمانان اعم از زن و مرد بدستور شیطان گسترانیده شده است . «ببین تفاوت ره از کجاست تا بکجا».

بر ملت مسلمین جهان خصوصاً به قشر جوانان مسلمان غیور افغان و خانقاهیان اصیل است تا مسؤلیت خویشرا در قبال همچو عوامل جاري دریافته و تاریخ معنوي گذشتگان خویشرا عمیقاً به مطالعه گرفته تا باشد اعتبار از دست رفته مان با پیروي از خط شریعت نبوي «ص» دو باره احیاً و اعاده گردد.

تصوف و عرفان

«بیدل» کسی به عرش حقیقت نمي رسد
تا خاک پاي احمد مرسل نمي شود

د افغانستان معاصر نامتو متصوفین

جناب نورالمشائخ حضرت فضل عمر مجددی "رح"

دریمه برخه

جناب نور المشایخ صاحب په افغانستان کي دومره محبوبیت او نفوذ درلود ، د هغه وخت واکمنان خلکو دده په مقابل کي هیڅ ګټل . دده محبوبیت او نفوذ له دي خبري ځخه ښکاره کیږي چه : د ضبط الحوالاتو مدیر عبدالهادي خان وردګ حکایت کوي : زه په یو سفر د صدراعظم شاه محمود خان سره غزني ته ولاړم. صدراعظم شاه محمود خان خلکو ته د خبرو په ترځ کي وویل چي (اعلیحضرت صاحب تاسوته سلامونه ویل) په خلکو کي داسي ګنګوسه پیدا شوه چه صدراعظم صاحب وایي چي جناب حضرت صاحب په موږ باندي سلام وایي. نوموړي مدیر وایي چي ما په زړه کي وویل چي : ښتیا حقیقت نه پټیږي تاسو وګورئ جناب نورالمشایخ چه دخلکو په منځ کي یو محبوب او بزرګوار شخصیت دي او په جهادونو کي یي لویه برخه اخستي دا خلک یي دومره لیوال او عاشقان دي. چه د اعلیحضرت صاحب کلمه د دوي تر غوږونو په حضرت صاحب باندي تبدیله شوه .

جناب نورالمشایخ صاحب تل د حق ځخه دفاع کړي او د باطل په مقابل کي لکه پولادي غر داسي دریدلي دي په دي لار کي له شاهانو او دزور له خاوندانو ځخه نه دي ویریدلي او هغوي ته یي هم په زغرده خبره کړي ا. حقیقت یي ورته ویلي دي، په دي اړه د خدام الفرقان موسس جناب محمد اسمعیل مجددي وایي چي : یوه ورځ داود خان جناب نورالمشایخ صاحب ته د پښتونستان موضوع یاده کړه او دده حمایت او ملاتړ یي وغوښت. ضمناً یي ورته وویل چي پاکستان زموږ په باب ناوړه ارادي لري. ده جناب د داود خان خبره داسي ورغوځه کړه او مایوسانه یي ولیږه : د هندوانو په مقابل کي به د پاکستان تر څنګ داسي جنګیږم لکه یو پاکستاني خو که پاکستان په موږ برغل وکړ بیا به یي داسي مقابله کوم لکه یو افغان. هغه جناب د انګریزانو په مقابل کي د استقلال او آزادي غوښتني په غرض زیات جهادونه کړي دي او د سر به سرحد او افغانستان په سمیو کي نوموړي د آزادي مشعل وګرځید.

نور بیا

د تصوف د جوړښت بنسټیز عناصر

اقتباس : له قلبي میني کتاب ځخه

د اسلامي او حقیقي تصوف هدف د خداي تعالي«ج» په عبادت کي د حقیقي اخلاص پیدا کول دي، او اخلاص تر هغه وخته پیدا کیدلي نشي چه محبت نه وي لکه ځرنګه چي الله تبارک و تعالي«ج» په خپل مقدس کلام کي فرمایي :

ترجمه : « او هغه کسان چي ایمان یي راوړي دي ډیر ټینګ دي له جهته د میني له الله «ج» سره البقره ۱٦٥

له ابي درداً «رض» ځخه روایت دي چه ویلي دي حضرت رسول الله «ص» د حضرت داؤد علیه السلام ددعا ځخه یوه دا دعا وو : « اي خدایه! زه سوال کوم ستا د محبت او بل د هغه چا د محبت چي ستا محبت کوي او بل د هغه عمل چه ما ستا محبت ته رسوي، اي خدایه! وګرځوي ستا محبت زیات محبوب ماته تر نفس زما او تر مال زما او تر اولاد زما او تریخو اوبو د تږي له یاره » او هر کله به چي رسول الله «ص» حضرت داؤد «ع» یاد کړ دا به یي وویل چه حضرت داؤد «ع» د بشر د ټول نسل زیات عبادت کوونکي وو. مشکوة المصابیح ص ۲۳۷- ج ۱ باب جامع الدعأ رواه ترمذي

لنډه دا چي : دایمي متابعت پرته له محبت نه په بشپړه توګه مشکل یا نا ممکن دي، له دي امله دا ثابت حقیقت دي چه محبت د حضرت رسول «ص» وسیله ده محبت د رب العزت نه او د علما، و او د رسول الله «ص» د وارثانو محبت وسیله ده محبت د رسول الله «ص» د الله «ج» محبت د حصول شرط د سردار عالم او فخر آدم «ص» متابعت دي. همدا راز دده «ص» د وارثینو متابعت چي بي له شکه هغوي همدا عاملین علما، دي او د دوي اتباع د رب العزت د محبت موجب ګرځي لکه ځرنګه چه یو سالک ویلي دي:

مزن بي رضاي محمد «ص» نفس
که ره رستګاري همین است و بس
در ره حق امراست و ناهي است
وزرداش بیرون شدن گمراهي است

تصوف د ذاتي ماهیت له مخي :

تصوف د ذاتي ماهیت له مخي : د دوو عنصرو ځخه چي یو «شریعت» او بل یي «طریقت» دي جوړ شوي دي.

شریعت :

شریعت د لغوي معني له رویه د لاري ځخه مراد دي. په اصطلاحي معني کښي شریعت د اسلام د ټولو قوانینو (فقه) فردي دي او که اجتماعي روابطو په اړه ټول اداب او اخلاق، گفتار او اعمال او د خداي«ج» په حضور کښي د اطاعت او بندګي سر ټیټول او د زړه صفا کول او څه چي د اسلام په لویه ساحه کښي راځي (مجموعي ته) ویل کیږي ځکه نو یي له شریعت ځخه تصوف نشي موجود کیداي د طریقت د مشرانو لومړني توصیه دا ده چي صوفي او سالك باید په شریعت برابر وي او د شریعت ټول احکام (اوامر او نواهي) که اصلي وي یا فرعي. کلي وي یا جزوي، د زړه د کومي په ځان تطبیق کړي حضرت ابن عربي «رح» چه یو مشهور صوفي دي پدي هکله فرمایي : هر چا چي د شریعت تله د یو ساعت لپاره هم د لاسه پریښوده په هلاکت ورسید.

طریقت :

طریقت هم د لغت له مخي د لاري معنیٰ ورکوي په اصطلاحي معني کښي طریقت خداي«ج» ته د رسیدو لاره ده طریقت د تصوف نه پریکیدونکي جز دي که د طریقت عنصر د تصوف ځخه ایسته کړشي په هغه صورت کښي به تصوف موجود نه وي اما زهد او تقوا به موجوده وي د تصوف په اصطلاح به صوفي او سالك موجود نه وي ځکه چه سالك او صوفي باید طریقه او طریقه باید سلسله او پیرو لري که د طریقت د موجودیت نه په غیر زاهد یا متقي ته د صوفي کلمه استعمال کړاي شي دا به د صوفي تعریفاتو ځخه وتلي یو مستعار نوم وي ځکه چه طریقت د تصوف جز دي صوفي او سالك د پیر د ارشاد له مخي په طریقت کښي په مخ ځي. نور بیا

ستاره تابناک تصوف در سده یازدهم

حضرت مجدد الف ثاني شیخ احمد فاروقي "رح"

قسمت چهارم

رهروان

علامة الزمان شیخ السلام نمبقاره هند مولوي عبدالحکیم سیالکوټي در اوایل از معاندین حضرت مجدد «رح» بودند ولی بعد از مشاهده احوال و کرامات شان خطاب مجدد را اولتر ا. همه او به حضرت شیخ دادند.

چنانکه به همه گان معلوم شد و معاندان دنیا پرست ناسازگاري با شیخ گرفتند و عناد آنها هم کنار نماند. چنانچه حضرت شان محبوس هم شدند. چندي بعد بار دوم نیز حاسدان شاه را از کثرت مریدان و پیروان حضرت شیخ احمد مجدد «رح» هراسانیده و چنان وانمود کردند که امام عزم مملکت گیري دارند و نیز تجویز نمودند که شاهان را سجده تحیت جایز است اگر شیخ در حضور پادشاه حاضر شده سجده تحیت نماید مخالف نیست . پادشاه اکبر جلال الدین جهانگیر شیخ را نیز خود خواسته و سجده تحیت خواست حضرت شان شجاعانه قبولدار نشد ، حاسدان مکتوب دیگري را پیش کشیدند و به قتل حضرت(مجدد)رأي دادند اما پادشاه اینبار او را دوسال دیگر حبس نمود . بالاخره این مرد بزرگ با کرامت و صاحب کمالات عالي شب اول ربیع الاول که ماه وصال نبوي «ص» است به عمر ٦٣ سالگي در سنه ۱۰۳٤ از این جهان فاني رحلت کرد و در شهر سرهند شریف مدفون گشتند که تا امروز آن شهر بنام نامي شان نیکنام است و مزار حضرت شان زیارتگاه خاص و عام .

حضرت امام در علم و دانش شرعي و اسرار معارف سر آمد روزگار بوده و رسالات متعدد ، کتب و مکاتیب زیادي از خود بیادگار گذاشت و معروفترین آنها این ها اند :

۱- رساله اسرار التشهد ۲- کنوز الحقایق ۳- رسالة التحلیلیه ٤- رسالة الاثبات النبوة٤- رسالة المبدأوالمعاد٦- رساله مکاشفات غیبیه ۷- اداب المریدین ۸- رساله، معارف لدُنیه ۹- رساله ردالمذهب الرافضیه

بر علاوه تعلیقات عوارف رباعیات خواجه عبدالباقي «رح» و همانند آنها دیگر رسائل حاوي بسا علوم و معرفت نیز نوشته اند و فایقتر از همه مکتوبات شریف ایشان است که به کرات و مرات طبع شده است و هوادران از آنها کسب فیوضات کرده و میکنند.

شکست سکوت

اثرات کودتاي ننگین هفت ثر بر موجودیت خانقاه ها و مراکز روحاني کشور

نوشته : م.ع.مهجور

با تسلط رژیم پرولتري مزدور در افغانستان که توسط کودتاي ۷ ثور ۱۳۵۷ صورت گرفت در واقعیت امر نقطه اغاز بدبختي ها و سیه روزي هاي مردم متدین ماست که تا امروز ادامه دارد. سردمداران کمونیست در وطن ما جفاي بسیاري را بر مردم شریف و دیانت شعار این خطه باستان روا داشتند که ثبت اوراق تاریخ است و نمي توان به هیچصورت از نظر نسل هاي بعدي پنهان ماند. یکي از مسایل عمده که در سرخط فلسفه ماتریالیستي قرار دارد مبارزه علیه دین است زیرا دین را افیون ملت ها مي دانند و از همین جهت نخستین گام ایشان در تخریب دین برداشته شد. عده قلیلي از افراد جامعه و غالباً قشر جوان ناآگاه که از دانش دیني بي بهره و با فقر مادي دست و گریبان بودند ، دین به دینا بفروختند و حلقه غلامي را بر گردن آویختند. بر عکس قاطبه ملت به ارزش هاي دیني و طریقتي خویش استوار ماندنداما با داشتن ایده مقدس اسلامي چه سر ها که به تیغ ستم بریده نشد و چه تن ها که در پشت میله هاي زندان و شکنجه جا هاي مخوف نفرسود. تصمیم جابران تاریخ بر آن بود که مسلمان باید کشته شود ، فرقي نداشت که حمال است یا رئیس یك دستگاه ، دستفروش است یا تاجر عمده . استاد است یا شاگرد مدرسه . هم چنان مزدوران کرملین به دستگیري و کشتار بي رحمانه طبقه روحانیون اقدام کردند که یکي هم به شهادت رسانیدن حضرات نقشبندیه مجددیه بود که خون نا حق ایشان بر دامن این سیه کاران جاویدانه باقي ماند.

حافظه زمان فراموش نمي کند که به تاریخ ۲۹ جدي سال ۱۳۵۷ در سراسر کشور اقدام به گرفتاري حضرات مجددیه و دیگر مشایخ کرام نموده و در شهر کابل به قلعه جواد که محل بود و باش و خانقاه جناب حضرت صاحب نورالمشایخ «رح» و ضیا المشایخ«رح» قرار داشت نیمه شب حمله بردند. پسر و خلف الصدق جناب نورالمشایخ «رح» شبیر پاچاجان را که سجاده نشین پدر بزرگوارش بود با هفتاد تن از منسوبین ایشان به اسارت کشیدند و بعد در پولیگون پلچرخي به شهادت رسانیدند. حتي کسانیکه با حضرات مجددیه رشته هاي خویشاوندي هم داشتند به تیغ ستم سر بریدند،که مي توان از پسران جوان مرحوم حسن جان قرغه نام برد. مي گویند حضرات محترم قلعه جواد راد ر کشتارگاه بداخل صندوق ها قرار دادند و بعد تیر باران کردند.

به تاریخ متذکره در شهر هرات نیز بر منازل علما کرام و مشایخ وبویژه حضرات مجددیه حمله کردند و شخصیت هاي روحاني آنولایت را چون سناتور صاحب عبدالباقي مجددي، محمد انور مجددي، علي محمد مجددي و محمد سعید مجددي را توسط تراکتور با فامیل سرشناس موسند ها به شهادت رسانیدند .

این اقدام ناجوانمردانه و دور از انصاف کمونستهاي خلقي و پرچمي ضربه شدیدي بر روحانیت کشور بود ، زیرا خانقاه قلعه جواد که مرکز عمده تبلیغ و ترویج دین مقدس اسلام بود و از جانبي هم منبع ارشاد رهروان طریقت و تصوف ، فعالیت آن ممنوع و اموال آن تاراج گردید.علماي حضرت صاحب شوربازار در منطقه از شهرت به سزایي برخوردار بودند از جمله علماي جیدي که من در خورد سالي به صحبت ایشان رسیده بودم مرحوم مغفور مولوي صاحب نصر الله «هوتکي» بود که در شرح و تدریس مکتوبات امام رباني قدس سره العزیز ید طولا داشت . مدرسه غزني که از این مرکز (قلعه جواد) اداره مي شد علماي بسیاري را به جامعه عرضه کرد که ملت ما هیچگاه خدمات ارزنده ایشانرا فراموش نمي کند. اما نقطه عطف دراینجاست که رژیم الحادي (خلق و پرچم) با درك این حقانیت که قاطبه ملت افغانستان هیچگاه حاضر نیست تا از دین و آئین خویش بگذرد و علاقمندي شدیدي که مردم این مرزو بوم تاریخي به عرفان و تصوف دارند بناً عمال رژیم مذکور به فکر حیله سازي دیگر بر امده و توسط دستگاه جهنمي خاد خویش «پیران فرمایشي» و مرشدان ساختگي را در بین جامعه تبارز دادند. پیران مزور خلاف شریعت و طریقت و اصول خانقاه با کسب دستورات از رژیم دست نشانده به فریب و تزویر مردم باورمند مصروف شدند. این دسته نا بکار و کذابي که خود را شیخ و مرشد،خلیفه طریقت وپیر خانقاه معرفي میکردند از جهل و بي سوادي اشخاص استفاده کرده با تأسف اندوه و درد فراوان بسیاري را از جاده صراط المستقیم منحرف ساختند. به گونه مثالي از مثال ها یکي از خاطرات خویشرا جهت آگاهي مزید خوانندگان عزیز ذیلاً به نگارش مي آورم .

اتفاقاً در آن روز سیاه یکي از این مرشدین کذاب را در روز عرس حضرت خواجه خواجگان معین الدین حسن سنجري «رح» در خانقاه آغا محمد فقیر دیدم، مردکي آراسته با چپن سبز و عمامه سپید در پهلویم قرار گرفت . بعد از چند لحظه کریم «میثاق» که در آن دوران شاروال کابل بود وارد محفل شد و در نزدیکي جمعیت ما جاي گرفت . در این اثنا متوجه شدم که این شخص چپن پوش در برابر «میثاق» آنقدر چاپلوسي و تملق را آغاز کرد که حد و اندازه نداشت و همین میگفت که چندین بار خدمت شما رسیدم ولي موفق بزیارت تان نگردیدم.به آینده قریب باز هم بخدمت مي رسم و با شما کاري دارم و میثاق با غرور حزبي و دولتي خویش سر مي جنبانید. بعد از چندي بخاطرم رسید تا از این مردك چپن پوش بپرسم که چه وظیفه دارد و باب صحبت را باز نمایم زیرا هنوز محفل دایر نشده بود و خموشي براي من کسالت آورده بود. از وي پرسیدم، چکاره است و چه مصروفیت دارد ؟ در پاسخ گفت : مرا دیروز بر سر دستار خلافت بستند و من خلیفه خانقاه قادریه شریف هستم. موي بر اندام من راست شد، زیرا ارادت خاصي که به جناب غوث الاعظم سیدنا شیخ عبدالقادر گیلاني قدس العزیز دارم . از وي سولاتي در مناقب حضرت غوث الثقلین «رح» نمودم و هم از رموزات و خصوصیات این طریقه مبارک پرسیدم ولي با تاسف که پیر گمراه مذکور حتيٰ معلومات ابتدایي هم درین طریقه مبارکه نداشت، سر در گریبان بردم و همین بیت مولانا در ذهنم طنین انداز شد :

اي بسا ابلیس آدم رو که هست
پس بهر دستي نباید داد دست

مشت نمونه خروار را متذکر شدم که چگونه اشخاص بي خبر و فرومایه را بحیث پیر و مرشد و مسند نشین خانقاه ها در جامعه تبارز دادند، و آن بیتي را که در آوان نوجواني در مدرسه گفته بودم صدق مي کرد که :

تنگ است بر تصوف اي صوفیان باطل
بر مسند فقیري ناز شهان کشیدن

و از همین جاست که نا باوري در برابر طریقت بمیان آمده و آنرا عده یي بي خبر از معرفت ، امروز انگشت ششم مي دانند. در حالیکه اگر به کتب عرفاني و تذکره هاي عرفا و تاریخ گذشته نیاکان خویش سیر نمائیم ، چه شخصیت هاي عالیمقام و وارسته را سراغ داریم که عمر خویشرا در خدمت شریعت و طریقت به سر رسانیدند ، اقوال و افعال ایشان سر مشق سالکان و رهروان راستین میباشد،کسانیکه با شریعت و طریقت جفا مي کنند خداوند «ج» و رسول کریم «ص» از ایشان بیزار است و مستوجب عقوبت سخت اخروي نیز میباشند.

د هرات ولایت د امنیې قوماندان محترم مولوي ...

ورځ بې له کومې ستوماني څخه هلې ځلې کوي چه د اسلام د مقدس دین پاك هدفونه تر سره کړي او د خپل مظلوم ملت د هوساینې لپاره په مقدس جهاد بوخت دي . ټولو هیوادوالو ته ښه معلومه ده چه د افغانستان ټولي هغه سیمې چه د طالبانو داسلامي تحریك تر تسلط لاندي دي هغه ټولي د ګرانو وطنوالو په ملاتړ او مرستې سره فتحه شویدي په دې اساس په ټولو منطقو کې ټول وطنوال د خپل اسلامي تحریك سره لاس په لاس او مټ په مټ همکار او امنیت فوق العاده تأمین دي. چه ټولو هیوادو او بین المللي ارګانونو ته په ښکاره ډول معلومه ده .

او د هیواد په هغو سیمو کې چه لا تر اوسه پوري مفسدین موجود دي او د ملیشو لمنې لا زموږ د وطنوالو په مخ پرتې دي او د قدرت او واګې پر سر باندي په مسلحانه ډول په خپلو منځوکې او یا د افغانستان د اسلامي تحریك امارت په مقابل کې په جنګ بوخت دي او د خپل ګران ملت بچیان په وینو کې لمبوي اساسي علت یې د خارجي بادارانو لپاره مزدوري او د هغو لپاره غوړه مالي ده .

پوښتنه : د هرات ولایت امنیتي چارې د کومې مرجع لخوا پر مخ بیول کیږي ؟

ځواب : دروسته ده چې د هرات ولایت د دوه هیوادو سره هم سرحده ده نو دوي لرغوني ولایت امنیت مستقیماً د هرات د ولایت د مسلمانو او شریفو خلکو په مرسته د امنیې له قوماندانې سره دي او هم د هرات ټولي ولسوالي د خپلو مربوطه څانګو سره فعالي او د وطنوالو په مخ خلاصې دي د پنځمې سرحدي لوا قوتونه په خپلو قرارګاؤ او سرحدي تهانوکي ځاي پر ځاي دي او بې له کومې ستوماني او اندیښنې د خپل وطن د سرحدونو څخه دفاع کوي.

پوښتنه : د امني د قوماندانې اړوند کومې څانګې فعالي دي ؟

ځواب : د هرات د امني قوماندانې ټولي څانګې لکه د جنایي جرمونو سره د مبارزې مدیرت د امنیت آمریت د پاسپورت مدیریت ۷ امنیتي حوزې ، د ترافیکو مدیریت، د محبس مدیریت او اطفائي آمریت فعاله او با تجربه او صادق افسران په کې په خپلو وظایفو بوخت دي. او خپلې ورځنې وظیفې بې له کومه ځنډه سرته رسوي.

باید ووایم چه د کنترول منطقوي، کشف او تحقیق څانګې چې د جنایي مدیریت په چوکاټ کې د مسلکي افسرانو پواسطه په مخ بیول کیږي هغه واقعات که حقوقي دي یا جنایي نور جنایي جرمونه د قانون د امر سره سم د دوي ابتدایي دوسیې بشپړ وي او رسماً یې د غور او قضایي فیصلو لپاره مربوطه قضایي مراجعو ته سپاري .

پوښتنه : د هرات په ولایت کې له امنیت نه څومره ډاډ من یې او له اسلامي امات سره د خلکو همکاري څه ډول ارزیابي کوي ؟

ځواب : زه د افغانستان اسلامي امارت عالي رهبري ته په پوره توګه ډاډ ورکوم چه د هرات مسلمان او شرافتمند خلك د ابتدا څخه تر اوسه پوري د افغانستان د طالبانو د اسلامي تحریك سره غاړه په غاړه ولاړ دي. اوصادقانه او بې غرضانه همکاري یې د خپل اسلامي تحریك سره کړي ده چه زیاتره ځوانان د اسلام د هدفونو تر سره کولو لپاره او د خپل وطن د وساینې او امنیت لپاره په داوطلبانه توګه مسلح شوي او د شر او فساد د ځالو د ورانولو لپاره روان شوي دي او شهیدان او زخمیان یې ورکړي دي چه لا تر اوسه پوري هم دوي ډیر په شوق او علاقې سره خپله همکاري اعلانوي. چه زه هم د هرات د بادیانتــه او مسلمانو خلکو لپاره د پاك خداي «ج» څخه بریالیتوب او د هر فرد لپاره خوشحالي غواړم . زما پیغام د هرات د خلکو لپاره دا دي چې تر اوسه پوري تاسو ډیري ستونزي لیدلي دي ددې لپاره چه د قطاع الطریقانو لاسونه او پښې لا هم لنډ شي او لا زیات اجتماعي نظم د هرات په ښار ، ولسوالیو او کلیو کې را منځ ته شي. خپل صداقت او همت د اسلام د مقدس دین او د وطن د امنیت لپاره او د خپل مظلوم ملت په خاطر جاري وساتي.

نظام اسلامي در ۲٤ ...

ولایت بدون تفاوت و سعبض نظام اسلامي حکم فرماست، بناً لازم است که مجاهدین و علماي کرام با قطع نظر و قطع امید از مذاکرات طولاني و بي مفهـوم با امارت اسلامي تماس بگیرند. مسؤولیت عظیم اسلامي شان را در پیشګاه خدا و میهن رفع نمایند.

په ننګرهار کې د ...

امله ددې ځاي اوسیدونکي هر یو عبدالخالق د عبدالمالك زوي او ذوالفقار : زلمي زوي وژل شویدي او اته تنه سخت ټپیان شویدي او دوه و تنو د تندر د آواز له اوریدلو سره خپل اعصاب له لاسه ورکړیدي .

د ړندو معلولینو د ...

معلولین ګډون کوي دا لوبې د پنجشنبې په ورځ د محرم الحرام د میاشتې په اتلسمه نیټه له غرمې وروسته په دوه بجو پیل کیږي.

د حریت د فوتبال ...

ابو النصر فارابي د فوټبال د ټیم تر منځ د کابل په ورزشي لوبغالي کې پیل شوي وه پاي ته ورسیده .

په دغو لوبو کې د مرکز د فوتبال د حریت ټیم دري په مقابل د یو کې د شیخ ابوالنصر فارابي فوټبال ټیم باندې بریالي شو.

نزده بوتل مشروب الکولي ...

توسط شخصي از اسلام آباد پاکستان به کابل انتقال میګردید روز دوشنبه مورخه ۵ محرم الحرام توسط موظفین امنیتي میدان هوایي کابل دستګیر ګردید . چګونګي قضیه تحت تحقیق و بررسي قرار دارد .

به اساس قانون اسلامي امارت اسلامي افغانستان به هیچ فرد اجازه داده نه میشود تا شراب را بنوشد و یا از ممالك دیګر به داخل کشور انتقال بدهد.

د کانو او صنایعو د وزارت ...

وکړي.

دغه راز د کانو او صنایعو د وزارت معین د څرخي پله زندان وکوت او د زندانیانو د ژوند د حالت په هکله یې د زندان له مسوولینو سره خبري اتري وکړي.

د نظامي محکمې د موظف ...

لخوا د بندیانو نسبتي دوسیې تر غور لاندي ونیول شوي او ۲۵ تنه بندیان د کابل ولایت له نظارتخانې نه ازاد کړل شول . د بندیانو پر نسبتي دوسیو د نظامي محکمې د موظف کمیسیون د کتنې کاردوام لري.

د لوګر ولایت د دري زره ...

مولوي محمد سرور حق پرست د خبرو په ترڅ کې د هغو خیریه موسسو د ارزښتناکو خدمتونو له امله قدرداني وکړه چې په دې لاره کې یې هر اړخیزه همکاري کړیده.

د لوګر ولایت په بازار کې د ژورو ځناوو ګانو په کیندنې او د اوبو رسولو د نلونو په غزولو سره د لوګر ولایت دري زره کورنې او ټولي مربوطي دایرې د څښاك له روغتیایي اوبو نه استفاده کوي او د حسن د ویالې په جوړیدو سره د کرنې لس زره جریبه ځمکه خړوبیږي .

فابریکه یخ ولایت نیمروز ...

اقتصادي روبرو بوده است امارت اسلامي افغانستان در زمینه احیاء و ایجاد فابریکه ها و تأسیسات عام المنفعه توجهات جدي مبذول داشته و در این راستا تلاش هاي بیشتري را به خرج میدهند.

فابریکه متذکره در ۲٤ ساعت ظرفیت تولید ۸۰۰ قالب ۲۰ کیلویي یخ را دارا میباشد.

سیمینار تربیتي طرق ...

ولایات ننګرهار، کندهار، هرات، کابل و لغمان اشتراك ورزیده اند طرق و زمینه هاي جلوګیري از اسهالات و چګونګي فعالیت هاي ریاست هاي صحت عامه ولایات متذکره به بررسي ګرفته شده و راه هاي بیرون رفت از آن جستجو میګردد.

همچنان در این سیمینار محترم مولوي شیر علي رئیس صحت عامه و محترم مولوي سیف الرحمن رئیس احیاء و انکشاف دهات ولایت ننګرهار اشتراك نموده.کار سیمینار براي دو روز ادامه مي یابد.

موسسه سولیدارتي ...

محرم الحرام محترم الحاج ملا محمد عیسی آخند سرپرست وزارت آب و برق با ښاغلي «سولي مود» ناظم کمك هاي مؤسسه سولیدارتي مورد بحث و ګفتګو قرار ګرفت در جریان ګفتګو و ملاقات ناظم مؤسسه سولیدارتي آماده ګي موسسه خویشرا در تهیه سامان آلات و مصارف شبکه برق رساني و حفر چار حلقه چاه عمیق در مکروریان اولوقول آبچکان ابرازداشت.

محترم الحاج ملا محمد عیسی اخند سرپرست وزارت آب و برق قبل از ظهر روز دوشنبه ۱۵ محرم از ورکشاپ مرکزي ترمیم ترانسفارمر ها و ریاست ساختماني امور برق باز دید بعمل آورد. در جریان بازدید از ریاست ساختماني امور برق بخاطر تسریع کار و فعال ساختن سرکت دوم لین یکصدو ده کیلو وات مسؤولین وکارکنان آن ریاست را رهنمایي نموده تاکیدبعمل اورد تا تلاش بیشتر درزمینه صورت ګیرد.

یادداشت احتجاجیه وزارت امور خارجه امارت اسلامي ...

فاریاب، شبرغان ګرفته تا سمنګان و پلخمري روزګار مردم و بي دفاع این مناطق را سخت تیره و تار ساخته است که جان و مال و ناموس مردم از تعرض آنان مصؤن نیست.

در مناطق تحت کنترول آنها امنیت بجاي رسیده که حتي دفاتر و ذخایر مواد امدادي سازمان ملل متحد نیز از تاراج و چپاول آنان در امان نمانده و حتي سازمان ملل متحد فعالیت خود راد ر مناطق تحت کنترول رباني و دارو دسته اش در شمال کشور که ساحه تحت تسلط ایشان محسوب میګردد بحالت تعلیق در آورده که ناشي از عدم کنترول و بي امنیتي بر همین مناطق است و به ملل متحد حتي این امکان میسر نمي باشد که به هم پیمانان رباني در بامیان از مسیر شمال کمك ارسال نماید.

سابقه رژیم رباني در بي اعتبار ساختن تلاش هاي صلح سازمان ملل متحد و کنفرانس کشور هاي اسلامي به حدي سیاه است که نیاز به تفصیل ندارد.

ګردهمایي اخیر که در اسلام آباد میان نماینده ګان امارت اسلامي و مخالفین به منظور بر قراري صلح در افغانستان دایر ګردیده بود : ملیون ها افغان مصیبت دیده به نتایج آن چشم انتظار دوخته بودند، به این علت به نتیجه نهایي نرسید که نمایندګان مخالفین امارت اسلامي به بهانه هاي واهي کنفرانس را ترك ګفتند. در حالیکه امارت اسلامي افغانستان با نشان دادن انعطاف فراوان ثابت کرد که سخت مشتاق استقرار صلح در کشور است .

سردمدار رژیم که در دوران حاکمیت خویش بر کابل با تمام ګروه هاي دیګر بخاطر قدرت در ګیر جنګ شد و هر آتش بس براي وي زمینه آغاز یك جنګ خونبار تر از قبل بود و رئیس جمهور بر کنار شده که بخاطر قدرت پایتخت کشور را به تلي از خاك و خاکستر مبدل ساخت، اکنون بر کرسي نماینده ګي افغانستان در سازمان «ایکو» تکیه زده است !!!.

مردم مسلمان افغانستان با توجه به این سابقه سیاه رباني ، از کشور هاي همسایه انتظار آنرا نداشتند که از چنین ګروه ظالم که از هیچ نوع ظلم و ناروا در برابر مردم رنجدیده این وطن در ایاد قدرت خویش دریغ نورزیدند، حقوق ملت افغان را نادیده بګیرند. شرکت آقاي رباني در این کنفرانس نه تنها مغایر با اصل دوستي و حسن همجواري میان ملت هاي این منطقه است بلکه لطمه جبران نا پذیر بر پیکر کنفرانس «ایکو» نیز به شمار میرود.

امارت اسلامي افغانستان و مردم مسلمان این کشور دعوت از رباني در کنفرانس «ایکو» را پا مال نمودن حقوق حقه مردم افغانستان دانسته و مراتب احتجاج خود را به این وسیله ابراز میدارند.

کتابخانه عامه ریاست اطلاعات وکلتور در مرکز ولایت نیمروز افتتاح ګردید

کتابخانه عامه ریاست اطلاعات و کلتور اخیراً طي محفلي در مرکز ولایت نیمروز افتتاح ګردید.

خبرنګار آژانس اطلاعاتي باختر از شهر زرنج خبر میدهد به اساس مشي فرهنګي امارت اسلامي افغانستان که روز تا روز در عرصه ایجاد کتابخانه ها توجه بعمل مي آید اخیراً کتابخانه عامه اطلاعات و کلتور طي محفلي به اشتراك رئیس محکمه، رئیس څارنوالي عده یي از مسؤولین ولایت نیمروز افتتاح ګردید. در این محفل سخنرانان در رابطه به ضرورت ایجاد کتابخانه ها و نقش آن در امر انکشاف فکري و بالا بردن سطح معلومات و آګاهي دیني سیاسي اجتماعي مردم صحبت نموده تأسیس کتابخانه عامه را در آن ولایت مهم و با اهمیت تلقي نموده از توجهات و مساعي امارت اسلامي افغانستان در این زمینه اظهار قدرداني نمودند.

رقم بیـــــکاري در سال روان در آلمان در تاریخ آنکشور بي سابقه مي باشد

رقم بیکاران در سال روان در کشور آلمان به چهار اعشاریه چهل و دو ملیون نفر بالغ ګردیده که یازده اعشاریه چهار در صد نفوس کشور را تشکیل میدهد .

این رقم بیکاران در کشور آلمان در ایام پس از جنګ جهاني دوم بي سابقه میباشد.

تعداد بیکاران کشور آلمان در ماه اپریل چهار ملیون و چهار صدو بیست هزار نفر وانمود ګردیده که یك افزایش هفتاد و چهار هزار نفري را به مقایسه همین مدت سال ګذشته نشان میدهد .

رقم تعداد بیکاران که روز پنجشنبه در بن مرکز آلمان انتشار یافت در تاریخ آنکشور بي سابقه میباشد.

این بیـــــکاري روز افزون در کشـــــور آلمان سبب نګراني عمیق مقامات آنکـــــشور ګردیده است .

د شریعت تبصره

ولسي غبرګون به د ائتلافي دیوانو خیالي تخت په هوا کړي

د هیواد په شمال کې د اسلامي امارت د اتلي اردو پرله پسې سوبو یو ځل بیا جوته کړه چې افغان مسلمان او مجاهد ولس د یو پوخ بنسټه دیوال په څیر د اسلامي امارت تر شاه ولاړ دي او د خپل ژوند تر وروستیو شیبو پوري به د اسلامي امارت د اهدافو او ارزښتونو نه دفاع کوي څکه دوي د خپل سر په سترګو ولیدل چې د طالبانو اسلامي تحریك او د افغانستان اسلامي امارت په ریښتوني معنی د دردیدلي ملت د هیلو او غوښتنو ترجمان دي دوي د اسلامي امارت تر واك لاندي سیمې هم لیدلي دي او د ائتلافي مزدورو ملیشو تر یوغ لاندي د خلکو ژوند هم په خپلو سترګو وینې د شمال مسلمان او مجاهد ولس په دې کې هیڅ شك نه کوي چې د باغي ملیشو وجود د دوي په سر له یو مسلط عذاب او له زغم نه وتي ستونزي سره مترادف دي او په هره بیه چې کیږي دوي باید د ظلم او استبداد دا فرعوني او چنګیزي څنځیرونه وشلوي او د اسلامي امارت د نیکمرغه نوغ تر سیوري لاندي د ارام ساه واخلي. د شمال د مجاهد او با شهامته ولس په ملاتړ د اشکمش د استراتیژیکي ولسوالي فتحه له توقع نه لیري او کومه نوي خبره نه ګڼل کیږي څکه چې دا د ولس یوه پخوانې غوښتنه وه خو دا چې ظالم چارواکي د دوي د هري غوښتنې په وړاندي ختم شوي دي او ددي فرصت یې نه ورکاوه چې خپل برخلیك په خپله وټاکي نو اوس یې وخت ومونډ او د ملیشو د کبر او حماقت جام یې ورنسکور کړ او د اسلامي امارت سپیڅلي بیرغ یې د خپلو کورونو په برجونو ورپاوه. د اشکمش فتحه، د بغلان په ولایت کې له اسلامي امارت سره د لسګونو کلیو پیوستون ، په بدخشان او د تخار په نورو سیمو کې د اسلامي امارت د بیرغونو پورته کول او ... د کمونستو ملیشو ، او وحشي ډلو په ضد یو ښکاره ولسي پاڅون دي . ملت پوهیږي چې تر څو د دوي په رګونو کې یوه قطره وینه او د ملیشو په کمربند کې یوه مرمې هم پاتې وي نو خپل یزیدي تیغ به د دوي له مرۍ نه پورته نه کړي د شمال اوسیدونکو درك کړیده چې د دوي په سر مسلطې پردي مزدوري ملیشې د پردیو مزدوران او هر حرکت یې د پردیو په اشاره دي چې له ځان څخه نه د هیڅ ابتکار جرئت لري او نه خو هم سیاسي درایت او معقولیت لري نو یو باتور او غیور ولس به یې په خپله ښه په کوم دلیل د شرم دا تور داغ وزغمي. له بلې خوا د اسلامي امارت ورځني کړنې، ډاډمن امنیت، د سولې او وروروالي فضاً، د اسلامي امارت تر کنترول لاندي سیمو کې د هیواد د ابادي او بیا رغونې د کار چټك بهیر ، د خلکو د سر ، مال ، ناموس او حیا خوندي توب ... دا هر څه د هغوي د ذهن په کمروکې ځي او راځي . وروستیو سیاسي پیښو او په ځانګړي ډول د بامیانو له ولس سره د اسلامي امارت بې کچې همدردۍ دولس د هوسایي او ارام لپاره د اسلام اباد په مذاکراتو کې د هغې دښمن په مقابل کې چې د اسلامي امارت د محبوبیت، نفوذ او واکمنې سره یې سیاسي او نظامي وجود هیڅ د پرتلې جوګه نه دي د اسلامي امارت لخوا دومره ډیر انعطاف؛ له اسلامي امارت سره د ملت د هیلو د ټولو بهیر لا ګړندي کړ او ولس په دې هم یقین لري چې تر څو دا ملیشې وي نو نه به یې د جګړې اور له سره لیري شي او نه به یې د هیواد د پرمختګ او ابادي خوب تعبیر ورکړي.

کمونستو ملیشو نه د ولس اجتماعي نفرت، په خپلو منځو کې د ملیشو نظریاتي، سیاسي او مذهبي اختلافات، یو د بل په سنګر وتو ورځني نښتې او خونړي جګړې، د واحد موقف نه درلودل پخپله ولس لپاره د بختور او نیکمرغه سباون زیري او د ملیشو لپاره د دوي د ژوند د وروستیو شیبو د شمیر یو سګنال دي.

د اشکمش له فتحې سره د پنجشیر په کلکې کلابندي او د نهرین او پلخمري له لوري تخار ته د نظامي کاروانونو د ورنګ په مخنیوي سره په تخار کې د میشته و وسله والو شوکمارانو مورال له مځکې سره برابر شوي او همدارنګه د پنجشیر شارګ پرې غوڅ شویدي . چې د حتمي سقوط شیبې یې باید وشمارل شي. مبصرین فکر کوي چې که د اسلامي امارت اردو خپلې سوبې و هم دروي نو د ملیشو خپلمنځي نښتې او د دوي د کرغیړنو اعمالو په وړاندي ولسي غبرګون او عمومي پاڅون به هم په همدې لنډو ورځو کې د ائتلاف د ورستي کیږدي مراندي له بیخه راوباسي.

انشا ء الله تعالي

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Movement of Taliban - Afghanistan
Chief Editor: Mawlavi Abdul Rahman Ahmad Hotaki,
Editor: Mula Asadullah Hanifi,
Peshawar ,Tel # : 844331-818157-815627
Fax: 816088 Peshawar
Account No : 71-8 Allied Bank of Pakistan LTD
Shopping Plaza KarKhano Peshawar
Printed by: Dawlati Printing Press

یادونه

ښايي ښاغلو ایمان به اجازه درنکړي چې دا ډول سپیڅلي پاڼې په ناوړو ځایونو کښې وغورځوي.

د ګډون بیه له هیواد نه بهر		
ملك	شپږ	کلنۍ
پاکستان	RS200	RS400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امریکا	US$75	US$150